AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۱/۰۴/۰۳

# ګهرباره وینا

یو بیګناه کس د یو حشمت او جلال خاوند پادشاه په وړاندی د یو کس په قتل مجرم و پیژندل شو ،پادشاه خپلو جلادانو ته حکم وکړ، چې نور یې د کار څخه پرده اوچته کړئ ، او په عام بازار کې یې په دار ځوړند کړئ ، بیګناه چې د دار او په اصطلاح د پړي خبره واوریده ، نو د ځان سره یې وویل:

توکلت وعلی الله چې توکل دي وي په خدای. کله چې جلادانو دی د دار په لور رهی کړ ،نو د ده په خوله کې لکه ګل د نو بهار خندا غوړیدلی وه ،په لاره یې ډېر خندل او په ډېر خوشحالۍ سره د دار په لور رهي وو .

ډېر خلک د ده حالت ته په حیرت کې پاتي شول او جلادان هم د ده دي بی تفاوتی او شهامت ته ، د مرګ په وړاندی هک حیران ول ،او په معنی نه پوهیدل ،یو تن د ملګرو څخه چې ورسره نژدی روان وو ،او د زړه راز یې هم کله کله ورسره درلوده ، ورته یی وویل:

په دي وخت کې ستا یار کومه دی؟ او هغه وفادار کومه دی؟ چې تا د دي حالت څخه وژغوري ،د خلاصون لاړ درسره څه دی ؟ دار وګوره انجام وګوره ، دا دومره خندا دي په څه ده ؟ ده ورته وویل:

ای له انجام ځیني غافله ، که راته څومره د بقا جامونه ، د فنا ساقي په لاس کې راکړي خو زما دا یو نفس او یو دَم د عمرباقي دی ،دا یو نفس غنیمت دی او په هیڅ قیمت بیرته نه راګرځي ،نو ډېر د حیف او افسوس ځای دی ،چې دا یو نفس او دا غنیمت دَم په غم او غصې سره تیر کړم . ښه به دا وي چې ، دا څو لنډي شیبی په خوشحالۍ سره تیري کړم ،ځکه دا ساعت بیرته نه راګرځي ،دا ښي خبری چې په عالم د معنویاتو کې د انسان روح او روان تازه کوی ، او په تیارو او غافله زړونو رڼا اچوي ،ډېر خلک یې په حیرت کې پریښودل ،او د هوش خاوندانو ته یی ، د خودی ټکان وکړ ،دا ګهر باره وینا د پادشاه غوږ ته ورسیده ،د پادشاه په شونډو کې د رحمت او بخشایش مسکا راغله ، او د بیګناه د دي پند آمیزه خبرو څخه یي چې د دي بی ګناه ، د ضمیر څخه سر چینه اخیسته د ده په بی ګناهی اعتراف وکړ او هغه یی د نوازش او بخشایش سره وبخښه.

د فارسی ادب د تعلیمی او انتباهی اشعارو څخه په پښتو ادب کې ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ